# بسم الله الرحمن الرحیم
# اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته
# د ذلت مرګ غواړئ،که وقار، عزت او ځواک!؟

(ژباړه)

**اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته!** د غزې خلک مرګ محاصره کړي دي. که دوی په مرمیو او بمباریو مړه نه شي، نو لوږه، تنده او ناروغي به یې حتماً ووژني. د غزې شمالي برخه تر سختې محاصرې لاندې د خوراکي توکو، اوبو او درملو له جدي کمښت سره مخ ده؛ نو اې مسلمانانو غواړئ څه وکړئ؟

هغو کسانو چې د الله سبحانه وتعالی غضب پرې شوی؛ جوماتونه، روغتونونه، کورونه، د اوبو ذخیرې او د ژوند ټولې اسانتیاوې یې ورانې کړې دي. دوی زموږ پر ماشومانو او ښځو په یوه خونړۍ، وژونکې او وحشتناکه صحنه کې د مرګ چتر خور کړی. دا هغه صحنې دي چې رسنۍ یې په سختۍ راپور ورکوي. څه فکر کوئ چې د سپوږمکۍ چینلونه تاسو ته په غزه کې د روان حالت نیمایي یا ان څلورمه برخه حقیقت رسوي؟ رسنۍ تاسو ته په غزه کې د روانو زړه بوږنونکو وحشتونو او ظلمونو یوازې یو وړه برخه رسوي، چې سترګې یې د کتلو او زړونه یې د زغملو زور نه لري.

**اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته!** څه دپاسه اویا ورځې کیږي چې د غزې د خلکو عام‌وژنه روانه ده. تر ۷۰ کالو ډېر وخت کیږي چې د هغو کسانو لخوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسرأ سپکاوی کیږي چې د الله سبحانه وتعالی غضب پرې شوی او ترې ناراضه دی. تاسو په خپلو سترګو په جګړه کې د یهودانو وېره ولیده. نو غواړئ څه وکړئ؟ یوازې راته ژاړئ او که مو لار ورکه کړې او څنډې ته کیږئ؟ ایا فکر کوئ چې یوازې په دې حالت راضي کېدل به تاسو په دنیا او آخرت کې وژغوري!؟

**اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته!** ایا پوهېږئ چې د نبوت پر منهج خلافت د نشتون او د غربي لاسپوڅو د واکمنۍ له امله په عراق، شام، لیبیا، یمن، برما، چیچنیا، ازبکستان، افغانستان او ترکستان کې څو میلیونه مسلمانان شهیدان او بې کوره شي دي؟ اې د اردن، مصر، حجاز، پاکستان او ترکیې خلکو! فکر کوئ چې هغه څه چې غزه او شام کې وشول، له تاسو سره نه کیږي؟

الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

[**أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ**]
[توبه:١٢٦]

**ژباړه:** « *ایا دوی نه ګوري چې هر کال یو یا دوه ځلې (له خپلو مقدساتو څخه د دفاع کولو د جهاد لپاره) ابتلأ او ازمایل کیږي؟ خو بیا هم (د جهاد نه کولو له بهانو څخه) توبه نه کوي او نه عبرت اخلي (ترڅو د غفلت له خوبه بیداره شي).* »

ایا ستاسو لپاره د فکر کولو وخت نه دی را رسېدلی!؟ تاتاریانو د مسلمانانو پر خاوره یرغل وکړ، شاوخوا دوه میلیونه مسلمانان یې د حکامو خیانت، وېرې او غفلت له امله شهیدان کړل. تاتاریانو په عراق او شام کې د مسلمانانو ښارونه اشغال کړي و، د مصر تر پولو ورسېدل او د مسلمانانو عام وژنه همداسې روانه وه؛ تر دې چې یوې مخلصې او مجاهدې رهبرۍ د دې عام وژنې مخه ونیوله. دوی په عین جالوت کې تاتاریانو ته ماتې ورکړه او د مسلمانانو ښارونه یې بیرته د شلو زرو مجاهدینو په مرسته ازاد کړل.

تر دې وړاندې صلیبیانو د حکامو د خیانت، تفرقې او د مسلمانانو د غفلت له امله دوه میلیونه مسلمانان په صلیبي جګړو کې ووژل چې شاوخوا ۷۰ زرو یې په قدس کې وو. د مسلمانانو د وژلو دغه لړۍ یوازې هغه وخت بنده شوه چې د مسلمانانو ترمنځ مخلصه او مجاهده رهبري رامنځته شوه. فاتح صلاح الدین په حطین کې د ۲۵ زرو مجاهدینو په مټ صلیبیان سخت وځپل.

**اې مسلمانانو** ایا د دې د درک کولو وخت نه دی را رسېدلی چې ستاسو د وینو بهېدل یوازې د هغه مومن رهبر په راپیدا کېدو بندېدلی شي چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ته مخلص وي؟ د دې حقیقت تر درک پورې به مو څومره نوره وینه تویې شي!؟ د دې حقیقت تر درک پورې به نوره څومره وېره او لوږه تېره کړئ!؟ د دې حقیقت تر درک پورې به څو ملیونه نور مسلمانان د دغو لاسپوڅو رژیمونو تر چتر لاندې شهیدان شي!؟ تر هغې چې تاسو پوه شئ دښمن ته مو یوازې هغه وخت ماتې ورکوی شئ چې یوه مخلصه، صادقه او مومنه رهبري ولرئ. **تاسو به څه وخت پوه شئ چې ستاسو د وینو، ماشومانو، ښځو، پیسو، کورونو او ځمکو بیه د دغو خاینو حکامو دربار ته په مراجعې نه شئ ترلاسه کولی. دغه لاسپوڅي نظامونه له منځه یوسئ او له هغه رهبر سره بیعت وکړئ چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول ته مخلص وي!؟**

**اې د مسلمانانو لښکرو، ایا هغه وخت نه دی را رسېدلی،** چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ته د مخلصې رهبرۍ په رامنځته کولو کې خپل اهمیت درک کړئ، ترڅو تاسو او امت خپل تیر برم، شوکت او فتوحاتو ته ورسوي!؟

**اې د مسلمانانو لښکرو، ایا د دې د درک کولوی وخت نه دی را رسېدلی،** چې السیسي، د اردن پاچا، بن سلمان او د پاکستان، ترکیې، عراق، عربي مغرب او... خاین چارواکي او لاسپوڅي حاکمان ستاسو امت تر پښو لاندې کوي!؟ ایا د دې د درک کولو وخت نه دی را رسېدلی چې دوی به هېڅکله تاسو ته د هوسا ژوند زمینه برابره نه کړي، دوی به هېڅکله اسلامي خاورې ازادې او هېڅکله به تاسو ته نصرت در نه کړي!؟

**ایا پر دې د پوهېدو وخت نه دی را رسېدلی،** چې دا خلک او دوی ته ورته نور چارواکي د خیانت سرونه او د کفارو اسباب دي؟ دوی ته ورته حاکمان د دې لامل شول چې صلیبیان او تاتارایانو په میلیونونو مسلمانان شهیدان کړل. دوی هغه څوک دي چې مسجد الاقصی یې یهودانو ته وسپاره. دوی هغه څوک دي چې د یهودي دولت د بقا وسیلې او شرایط چمتو کوي. دوی هغه څوک دي چې امت او د هغه لښکرې غزې ته له نصرت ورکولو منع کوي. دوی هغه څوک دي چې د امت د وحدت او یووالي مخه نیسي. دوی هغه څوک دي چې د اسلامي دعوت له مخلصینو سره مبارزه کوي او واک ته د دوی د راتګ په مخ کې خنډ کېږي.

**اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته!** موږ پر تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسراء له مبارکې خاورې، د پیغمبرانو له ټاټوبي، له هغې خاورې چې د دوهم راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره پکې د حزب التحریر دعوت پیل شول، د الله سبحانه وتعالی په دغه قول غږ کوو:

[**أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ**] [حدید:۱٦]

**ژباړه:** *«ایا د مومنانو لپاره هغه وخت نه دی را رسېدلی چې زړونو ته یې د الله ذکر دننه شي او د هغه له لوري نازل شوي حق ته یې سرونه ښکته شي.»*

**اې مسلمانانو،** موږ د زړه له درده پر تاسو غږ کوو. تاسو به کله د الله سبحانه وتعالی دغې غوښتنې ته ځواب وایئ:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ * إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَيَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئاً وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ]** [توبه:۳۸-۳۹]

**ژباړه:** *«اې مومنانو! پر تاسو څه شوي دي، کله چې تاسو ته د الله په لاره کې د وتلو (قتال) وويل شي، نو تاسو په ځمکه درانده کېنئ. ايا تاسو د اخرت په مقابل کې د دنيا ژوند غوره کړی دی؟ که داسې وي، نو بايد پوه شئ چې د دنيا د ژوند ټول وسايل او ټوله دنيا د اخرت په مقابل کې ډېر لږ يا هېڅ ارزښت نه لري. که چېرې تاسو د (قتال) لپاره ونه وزئ، نو الله سبحانه وتعالی به تاسو ته ډېر دردناک عذاب درکړي. تاسو به له منځه يوسي او پر ځای به مو بل قوم راپورته کړي او تاسو به الله سبحانه وتعالی ته هېڅ زيان ونه شئ رسولی. الله سبحانه وتعالی پر هرڅه قادر دی.»*

**اې د لښکرو قومندانانو او افسرانو، پر تاسو غږ کوو!** تاسو به کله د الله سبحانه وتعالی دين ته نصرت ورکوئ، تاسو به څه وخت حزب التحرير ته د راشده خلافت د تاسيس او د الله سبحانه وتعالی د وعدې د پوره کولو او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم د بشارت د تحقق لپاره نصرت ورکوئ؟ کله به هغه لاسپوڅي حکام د قدرت له گدۍ راپرځوئ چې له الله سبحانه وتعالی او د هغه له رسول صلی الله عليه وسلم سره خيانت کوي؟

**اې د محمد صلی الله عليه وسلم امته!** هغه څه چې ستاسو له سرونو او وينې ساتنه کوي، حرمتونه آزادوي، تاسو او ستاسو اولادونو ته ښه ژوند برابروي او تاسو ته وقار، بريا او ځواک درکوي او تر ټولو مهمه دا چې الله سبحانه و تعالی پرې راضي کېږي؛ هغه الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم ته هغه مخلصه رهبري ده چې پر تاسو د ما انزل الله پر اساس حکومت کوي. هغه رهبري چې د الله سبحانه وتعالی د رضا ترلاسه کولو لپاره شپه او ورځ هلې ځلې کوي او د خلکو تر منځ عدل او انصاف کوي. دا هغه څه دي چې حزب التحرير يې په وار وار شپه او ورځ ستاسو تر غوږونو رسوي او پر اسلامي لښکرو غږ کوي چې دغه لوی او عظيم هدف ترلاسه کړي. نو څه وخت به تاسو د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم بلنې ته ځواب وايئ او څه وخت به په ځمکه کې د الله سبحانه وتعالی د دين قايمولو لپاره له حزب التحرير سره بيعت کوئ!؟

**اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته!** پر ځمکه د الله سبحانه وتعالی د دین قایمول، د بیت المقدس ازادول او  مظلومانو ته نصرت ورکول هغه ستر ویاړ دی چې الله سبحانه وتعالی یې له هغه سبحانه وتعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره خیانت کوونکو ته نه ورکوي. دا ستر ویاړ یوازې اسلام ته د مخلصو مومنانو په لاسونو ترلاسه کېدی شي. الله سبحانه وتعالی دغه لوی عزت یوازې هغو کسانو ته ورکوي چې له الله سبحانه وتعالی څخه تقوا کوي. نو، اې د بصیرت خاوندانو، فکر وکړئ. اې د عقل خاوندانو، دا فرصت مه ضایع کوئ!

یو ځل بیا موږ د الله سبحانه وتعالی په دغه حکم پر تاسو غږ کوو:

[**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ * تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ * يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ * يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنْصَارَ اللهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللهِ فَآمَنَتْ طَائِفَةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَتْ طَائِفَةٌ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ**][صف:۱۰-۱۴]

***ژباړه:*** *«اې مومنانو، ایا تاسو ته هغه تجارت ونه ښیم، چې له دردناک عذاب څخه مو ژغوري. پر الله سبحانه وتعالی او د هغه پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم ایمان راوړئ او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې په خپلو سرونو او مالونو جهاد وکړئ. که تاسو پوهېږئ، نو دا ستاسو لپاره غوره تجارت دی. الله سبحانه وتعالی به ستاسو ګناهونه وبښي او تاسو ته به هغه جنتونه درکړي چې ترې لاندې ویالې بهېږي او په دایمي جنتونو کې به غوره استوګنځي درکړي او دا تر ټولو ستره بریا ده. او هغه بل نعمت (دنیوي نعمت) چې تاسو یې خوښوئ، هغه به هم درکړي، د الله سبحانه وتعالی نصرت او فتحه ډېره نیږدې ده او مومنانو ته زیری ورکړه. اې مومنانو! الله سبحانه وتعالی ته نصرت ورکړئ، لکه څنګه چې عیسی علیه سلام د مریم زوی حواریونو ته وویل: «د الله سبحانه لوري ته په بلنه کې څوک ماته نصرت راکوي. حواریونو وویل: موږ الله ته نصرت ورکوو!» په دې ډول د*

*بنـي اسرائيلو يوې ډلې ايمان راوړ او بله ډله کافره پاتې شوه. وروسته موږ د مومنانو د دښمنانو پر وړاندې مومنانو ته نصرت ورکړ او دوی بريالي شول.»*

يا الله! دا خير زموږ په لاسونو ورسوه. يا الله! په دغه خير د مسلمانانو زړونه خوشحاله کړه. يا الله! موږ ته خپل قدرت او نصرت راپه برخه کړه.

ټولې ستاينې يوازې د رب العالمين لپاره دي.

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۸مه**

**۲۰۲۳م کال، د ډسمبر ۲۱مه**

**حزب التحرير**

**د فلسطين مبارکه خاوره**